آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۹/۰۳

# د سکروټو باران

«د سکروټو باران» نومي شعر کې مې، په کابل کې د نولس سوه څلور نویم کال د جګړو د اوج شپو ورځو یو غمجن انځور ایستلی؛ د هغو جګړو انځور چې عاملین یې اوس هم د واک پر ګدی ناست دي، د ټولنې له نا پوهی او بیسوادی نه په استفادي سره، د مذهب، ژبې، قوم او... تر شعارونو لاندې، هغه څه کوي چې د بشریت تاریخ ور باندې شرمیږي. دا هم انځور، وې ګورئ:

## د سکروټو باران

د توټکو پر ځاله

د اور باران راغی

پر کلیوالو په شیبونه، په کلو و ورید

تا به وې دغه آخري زمان دی

خلکو وې موږه ګنهکار یو، که څه؟

دغه زموږ د ګناهونو عکس دی

چې له آسمان نه نازل شوی دی د خدای لوی غضب

او دا دی موږ ته معجزې رابښیي

د جګړې غږ سره سیلاو راغی

خلک داور خوراک شول

خپله ګناه باندې دوی پوه هم نه شول

ولې له پاسه د سکروټو بارانونه اوري؟

د۱۹۹۴ کال جنوري

ماسکو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ